# مطبوعاتي اعلاميه

## د حمدوک حکومت نه یوازې دا چې ناکام شوی، بلکې غواړي چې سوډان تر نړیوالې سرپرستۍ لاندې راشي

د انتقالي حکومت د لومړي وزير ډاکټر عبدالله حمدوک له لوري په سوډان کې له امنيت شورا څخه د يو ليک په لېږلو سره غوښتنه وشوه، چې د سولې د ملاتړ لپاره تر شپږم څپرکي لاندې يو ځانګړی سياسي پلاوی وټاکي. په دې شرط چې د راتلونکي پلاوي دنده به دا وي، چې د سوډان ټوله سيمه تر پوښښ لاندې راولي. د دغې غوښتنې پر اساس، پلاوی اړ دی چې د اساسي قانون د سند پلي کول، د سولې خبرو اترو لپاره د ښو دفترونو لپاره فرصت رامنځته کول، د بې ځايه شوو وګړو او کډوالو بېرته خپلو سيمو ته ستنول او له دوی سره يو ځای کېدل، انتقالي عدالت، د ملکي وګړو ساتنه او د پوليسو ځواکونو د وړتيا لوړول... او نور مسووليتونه ترسره کړي!

موږ فکر نه کاوه چې يوه ورځ به راځي او يو مسلمان واکمن به دا له شرم او ذلت څخه ډکه خبره کوي. د لومړي وزير له لوري دا غوښتنه ښيي چې انتقالي حکومت له سياسي او اقتصادي پلوه يو ناکام حکومت دی او حتا خپل امنيت نه شي نيولی. که داسې نه وي، نو ولې د ملګرو ملتونو له پلاوي څخه د يو غوره دولت د کړنو په اړه پوښتنه کوي؟ دوی غواړي چې پلاوی بايد خپله د دولت څارونکی وي. د اساسي قانون د پلي کېدو لپاره د ملاتړ پر غوښتنې سربېره هغه سند چې په سوډان کې يې د بړبښنا جوړښتونه رامنځته کړي دا څرګندوي، هغه مهال به څه پاتې شي، چې په يو ازاد حکومت کې د خپلواک حکومت په توګه ونه بلل شي؟!

انتقالي حکومت غوښتنه کړې چې د سوډان نوم تر نړيوالې سرپرستۍ لاندې ونيول شي. لا تر اوسه هېڅ پخواني اجېنټ دا غوښتنه نه وه کړې، دا نه يوازې له الله سبحانه وتعالی او د هغه له رسول صلی الله عليه وسلم سره خيانت دی، بلکې د سوډان له هغو خلکو سره هم خيانت دی، چې د رښتيني انقلاب په لاره کې يې قربانۍ ورکړې وې او وينې يې تويې شوې وې. په هر صورت کله چې کړکېچونه رامنځته کېږي، حکومت په بشپړ ډول بې کفايته وي او حتا خپله ناکامي مني. د دې پر ځای چې د عدالت په ټينګولو کې حکومت پر خپلو خلکو باور وکړي او مخ و دواړوي، دوی ځي پر خپلو بادارانو غږ کوي چې سوډان د ځايي اجېنټانو له ملاتړ پرته نېغ په نېغه استعمار کړي.

**اې د سوډان خلکو!** له اوسني وضعيت څخه د وتلو لپاره تاسو يوه لاره لرئ، هغه دا چې تاسو د اسلام له حکم سره سم د رښتيني بدلون او د نبوت پر اساس د راشده خلافت د رامنځته کولو لپاره متې راونغاړئ. په دې سره به په هېواد کې د ښکېلاکګرو لاسونه پرې کړئ، ترڅو موږ د خپل رب د خوښې وړ په جنت او ځمکه کې تر برکت لاندې ژوند وکړو. الله سبحانه وتعالی په دې اړه له موږ سره ژمنه کړې او فرمايي:

﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ﴾

[الاعراف: ۹۶]

*__ژباړه:__ که د سیمو خلکو ایمان راوړی وی او د پرهېز ګاری لاره یې غوره کړې وی، نو موږ به پر هغوی د اسمان او ځمکې د برکتونو دروازې پرانیستې وی.*

## د حزب التحریر-ولایه سوډان رسمي ویاند ابراهیم عثمان (ابو خلیل)

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د جمادی الثانی ۱۶مه**

**۲۰۲۰م کال، د فبروري ۱۰مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۳۰**